**دمقالی لیکونکی :** والانتین واسیلیسکو (Valentin Vasilescu)
**منبع او دنشریدو نیټه :**انفارمیشن کلیرنګ هوز«۲۰۱۶-۶-۱۸».
**ژباړونکی :** پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل» .
---------------------------------------------

## روسیه کولای شی چي دامریکې د سمند ری زبرځواک دنه ماتید و افسانې ته د پای ټیکي کیږدی

## Russia Dismantles the Myth oft he American Navy's invincibility

**کاتی هون** ( یوتنویری سازما ن دی چی د نړی د قوتونو پربیلانس او جیوپولیتیکل موضوعا تو باندی لیکنې کوی ) - دامریکی متحده ایالات دروسی د سمند ری ځواک په پرتله دخپل سمند ری ددری ځلې ځواک په لرلو سره غواړی چي پر نړی باندی خپل ولکې او تسلط ټینګ وساتی -سربیره پرهغه دامریکی ددفاع وزارت یعنی پنتاګون یوستراتیژیک اداره یا امریت دخپل ځمکنی لویوجزوتامونو دځای پرځای کولودپاره رامینځته کړی چي نوموړی یونیټونه یا نظامی جزوتامونه لرونکی دسلونو دلوړظرفیت با روړونکي بیړی دی کوم چي دغه ټول سمندری بیړی د امریکی په څپانده بیرق سره سمبا ل شوی دی کوم چی د هغه هیواددا عزامی سمندری سازمان تر اداری لاندی خپل سپارلی شوی دندی تر سره کوی بی ویلو دی پا تی نشی چی دغه سمندری ځواک پخپل شاوخواکی ډیر قوی الوتکې وړونکی بحری اوبری بیړی اود سرتیرو د کاروان دانتقالاتو دپاره مجهزنظامی وسا یل هم لری چي هغوی کولای شی چی هرچیری وغواړی هغه ځای ته ځا ن رسولی شي .

دامریکی متحده ایالات دخپل متحد ینو د سرتیرو سره په ګډه هغه نظامی قوتونه کوم چي په اروپا اوآسیا کی ځای پرځای کړی دی کولای شی چي پرروسیه باندی یرغل اوتجاوز وکړی نو دهمدی دلیل په نظرکی نیولو سره دروسیې نوی نظا می دکتورین داسی انګیری یاداسی فکر کوی چي روسیی ته لوی خطر دامریکی د متحده ایالاتو د همدی اعزامی سمند ری قوتونو له طرفه ممکن دی چی تر سره شي اوداسی وړاند وینه کیږی چی ممکن یوه ورځ همدغه قوتونه دیرغل د پاره دروسیی پولی ته وړولیږل شی .

دامریکی دمتحده ایالاتو اعزامی سمندری نظامی ځواکونه اوهغه سیمی ته کوم چي دغه سمندری ساتونکی له انتقالی بیړیو څخه را پلی کیږی دخپل ساتنی دپاره څو ډول ضد بالیستیکی محافظوی سپرونه په اختیار کی لری چی یو ددی محافظوی سپرونو څخه د ایجیس (AEGIS) په نوم سمندری سیستم توغندی دی چی د اس ام ۳ (SM-3 1b) په نوم یو امریکا یی مخ په هوا توغندی دی چی پر بیړیو باندی نصب شوی دی او تل د تیار سیی په حالت کی تر قوما ندی لاندی اعیار کړل شوی دی اود دی ډول توغند یو یوه دستګاه په پولیند اودهغه بل د ستګاه په روما نیه کی دامریکی د متحده ایالاتو دسمندری قوتونو له خوا ځای پر ځای شوی دی چی دهغه څخه پر روسیی باندی دیرغل په وخت کی کار اخیستل کیږی چی ددی ډول توغندی نمونه په لاند نی تصویر کی ښودل شوی دی



ام-اس ۳- مخ په هوا بالیستکی توغندی

هغه دوم ډول ضد بالیستکی سیستم توغندی چی د (THAAD) په نوم سره یادیږی اودځان سره موبایل تیلیفون هم لری دامریکی دځمکنی قوتونوپه اختیار کی دی چی دهغه دنده دسرتیرو ساتنه په هغو سیمو کی دی کوم چی امریکایی ځمکنی سرتیری هلته راپلی کیږی او یا هلته ځای پر ځای کیږی



تاد(دایوډول ضد بالیستیکی توغندی دی چی دخپل محرک انرژی سره ددشمن توغندی خنثی کوی

*سربیره پر پورتنی توغندیو یوبل متحرک اوږد واټن ویشتونکی په بطری سره سمبا ل پاترویت په نوم توغندی دی چی وروسته د (۳۵۰۰۰) مترو په ارتفاع سره خپل ټاکلی هد ف په نښه کوی هغه په لاندی انځور کی ښودل شوی دی .*



*پیښه داسی فرضیی اوشرایط رامینځته کړل چی دروسیی کارپوهانود ما فوق صوت دنقلیی یاد وساطی په جوړولو باندی باید لاس پوری کړی تر څو چی ماورا الصوتی جګړو کی لاس بری ولری نودهمدی اصل په نظر کی نیولو سره هغوی دغه وساطه جوړ کړکوم چي دامریکی دمتحده ایالاتوضد بالیستیکی توغندی د دی وسه نه لری چی په میزو سفیر (Mesosphere) کی د (35000-80000) متر په لوړوالی سره دروسیی دتوغدی دتغولو مخه ونیسی اویا یی رانسکور کړی ، بی ویلو دی پاتي نشی اوهغه داچي روسیه برخلاف دامریکی د متحده ایالاتو څخه لرونکی دیوشمیر قوی د توغند یو انجینونه یا موتورونه لری چی د امریکی متحده ایالات د هغی توغند یو سره سیالی*

نشی کولای دمثال په توګه : پنټاګون او نسا (NASA) نشی کولای چې بې دروسیې د (RD-180) توغندی دتغولو څخه ستلایت (ماهواره) فضا ته ولیږی دبلی خوا څخه روسیه د راتلونکی کال (۲۰۱۸) په درشل سره په ډاډ من زړه د یوه ضد(Antodot) توغندی دجوړیدو کارترسره کوی او بیا یی په ازمایښت کی اچوی یعنی هغه ډول توغندی چې له هغی څخه دمافوق الصوت په جګړو کی به تری کاروا‌خلی – په فضا کی ددغه هوایی وسایطو کوم چې د جوړید و په حال کی دی دهغه دګړندیتوب په نظر کی نیولو سره په دی لاندی توګه سره طبقه بندی شوی دی:

۱- د صوت دسرعت څخه ټیټ (subsonic): دهغه ګړند یتوب له ماخ یک «1220 km/h-Mach-1» = څخه راښکته دی [دماخ عدد دیو اتریشی کارپوه له نوم څخه اخیستل شوی اودهغه مفهوم دادی چې د یوشی د سرعت نسبت په یوه سیا له کی دهغه سیا لی دصوت په سرعت پوری تړلی وی ].

۲- فرا صوت (supersonic) کوم چې دهغه سرعت په مینځ د (5-10) ماخ یا په یوه ساعت کی (6000km/h) دی .

۳- مافوق صوت (hypersonic) چې دهغه ګړندیتوب د( 10 -5) ماخو څخه زیات (12000km/h) دی - دلته باید دغه لاندی معادلی ته پام واړول شی :

$$[\,M = v/a]$$

دلته « **M**»= دماخ عدد دی . چې دتعریف په لحاظ ماخ هغه عدد دی کوم چي یوشي په یو سیال کی صوت په ګړنتیوب«سرعت» سره په همغه سیال کی حرکت کوی .

(V) : دګړندیتوب له جریان څخه عبارت دی .

(a) په یوه محیط یا سیال کی د صوت له سرعت څخه عبارت دی .

**دروسیې مافوق صوت سلاح ګانی** (Russian hypersonic weapons):

دروسیې اصلی مافوق صوت سلاح (space glider Yu-71) او ( 4202 پروژی) دی چې د (5500km) واټن د ( 80000) متر په لوړوالی سره د (6000-11200km/h) په سرعت سره حرکت کوی اودنوموړی راکټ دانجن مکررضربی اوسیګنا لونه دلوړیدو په وخت کی دخپل پیچلی مسیرکی اوروی داسی براورد شوی یاداسی اټکل شوی چې دغه ګلایډر په داسی یوسرګلوله

سره تسلیخ شوی چي  په فضا کی په مستقل ډول سره په رهبری کړ شوی
سیستم لکه د هوا ځخه وځمکی ته دتوغندی (kh-29L/T او T kh-25) په
ورته شکل سره سرګلوله ځای پرځای شوی کوم چی دهغه د انحراف میلان
په احتمالی بڼی سره (6/2) متر اټکل شوی دی دیاده باید ونه ایستل شی
اوهغه داچی کیدای شی چي په دغه راکټ کی دهغه په سرګلوله کی هستوی
سرګلولی کیښودل شی اوددی امکان شته چی دغه ډول راکټ د بی موتور
الوتکی پواسطه سره فضا ته وتغول شی اویا داچی دغه متعارف راکټ
دهستوی سرګلولی په لرلو سره د روسی د تحت البحری بیړی ځخه د خپل
هدف دویشتلو د پاره په حرکت راوړل شی اویا د هدف په لوری وتغول شی .
هغه انتقالی وساطه چی په پورته بڼی سره مو دهغه توصیف وکړ – کوم چی
دهغی ځخه توغندی او راکټونه تغول کیږی تاسی کولای شی چی دهغه انځور
په دی لاندی تصویر کی وګوری !




هغه بل ډول مافوق الصوت سلاح چي له (Yu-71) ځخه رابیلیری یا را
مشتق کیږی اود روسیی د نظامی قوتونو له خوا دترانسپورتی الوتکی په بڼه
پکار ولویږی ((Il-76MD-90A(Il-476) توغندی دی چی دخپل لوړیدو په
وخت کی تر هغه چی ځا ن داموسفیر متکا ثف برخی ته چی د هغه واتڼ له

ځمکی څخه (10000) متر دی په تتدریجی بڼی سره خپل (۵۰) فیصد انرژي (fuel) په مصرف رسوی ، فضایی ګلایډر (glider space) او ډله اچونکی (mass launcher)کولای شی چی (50) فیصد راکتونه حمل او انتقال کړی اویا داچی دروسیی دتحت البحری څخه د خپل هد ف په لور وتغول شی .

دوم ډول صوتی سلاح له مافوق صوت فضای ګلایډر( hypersonic spatial (glider څخه متفاوت دی اوهغه مزایل د (Zirkon 3M22) په نوم سره یادیږی چی د سمند ری ګزمی الوتکي (Maritime patrol aircraft) په واسطه سره تغول کیږی چی د هغه د ګرځند یتو ب اندازه د (2-6) ماخه یا (6500km/h) اودهغه د لوړیدو یا دارتفاع اندازه له ځمکی څخه (30000) متر اودهغه دخوځیدونکی انرژی هد ف ته درسیدو اندازه له هوایی موجوده بیړی څخه په نسبت د له بیړی څخه ود میزایلو بیړی ته (۵۰) برابره زیاته دی چی تاسی ددی وساطی انځور په دی لاندی تصویرکی لید لی شي .




**دمافوق صوت څخه دجګړی مفهوم** : د روسیي نوی نظا می د کترین داسی را څرګندوی چي د روسیی د ما ورا صوت سلاح سره دامریکی د متحده ایالاتو پریرغلیز جنګی بیړی با ندی یرغل به په دری موج کی له دری خواو څخه د ماورای صوتی په جګړه کی به تر سره شی دغه یرغل د روسیی

دبالتیک سمندر له نژدی ساحل څخه به دجنګ په پیل کی به ترسره شي .
ددی مافوق صوت لمړنی موج سلاح له ګلایدر څخه فضا ته دروسیی دتحت البحری هستوی زیرمی څخه چی دااقیانوس اطلس په مینځنی برخه کی ځای پرځای شوی دی ممکن دجنګ په پیل کی کوم چي د ا مریکی دمتحده ایالاتو اعزامی سمندری قوتونه زمونږ سره دجنګ په نیت جګړه پیل وکړی اوهغوی وغواړی چی ځان له خپل سمندی پایګاه څخه اروپا ته ورسوی لږ تر لږه (۷) یا (۸) ورځی پکار دی حال داچی زمونږ د (I1 -76MD-90A) الوتکی دخپل اعظمی پرواز سره په هواکی د (6300km) کیلومترو د واټن په وهلو سره د څو ساعتونو په موده کی داقیانوس اطلس مینځنی برخی ته رسیږی .




که چیری لمړنی موج ماورای صوتی سلاح ګانی خپل په نښه شوی هد ف له مینځه وینیسی اویاهد ف دړی وړی ونکړی نو ددښمن دهدف دویشتلود پاره د ماورای صوتی ددوهم ډلی موجی سلاح څخه کار اخیستل کیږی اودامریکی پرسمندری ځواک باندی چی (1000km) داتلانتیک ساحل په ختیځ څنډه کی پروت دی یرغل به ورباندی وشي دغه تهاجم به درروسیی له تحت البحری څخه چی د (Barent) سمندر یا د (plesesk) په پایګاه کی ځای پرځای شوی د ستراتیژیکی توغند یو په ګذار سره ترسره کیږی یعنی د هغه پایګاه څخه چی دقطب شمال دایری اود سپین سمندر ته نژدی پروت دی .




دمافوق صوت د ریم موجی سلاح یرغل به د (M22 Zirkon3) توغندی سره به تر سره کیږی یعنی هغه وخت چی دا مریکی سمند ری قوتونه د اسکاګراک (skagerrak)[له شمالی سمندر څخه بالتیک سمندر ته اغوښتل ] په سیمه کی ځای پرځای شوی اوسی. او داسی فرض وشی چی « ناتو» خپل یرغل پرروسانو باندی له بالتیک سمندر څخه پیل کړی یا داچی که چیری دامریکی دمتحده ایالاتو اعزامی سمند ری قوتونه وغواړی چی د تور بحیری خواته په حرکت ولویږی نو په هغه صورت کی به روسا نو خپل دریم موج مافوق صوتی سلاح د (Bosporus) اویا د(Dardanells) له تنګنا څخه به پکار واچوی اوپر امریکایانو به یرغل وکړی .




نو په پای کی لهستان – دبالتیک هیوادونه اورومانیی کوم چی دناتو غړی دی

اوټول پر روسانو باندی ګوابنیږی اوغواړی چی ددوی له قلمرو څخه پر روسیی با ندی یرغل وشی نو مخکی دیرغله دوی باید کوم چی د ناتو پر مالی کمکونو باندی ویاړی یا ډېره لګولی ښه فکر دی وکړی چی دغه په وعده سپارل شوی مرستی به د جګړی په پیل سره به دوی تر لاسه نکړی .

----------------------------------------- په درنا وی